# شریعت

ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ۳۸۷ ګڼه / چهارشنبه ۱۰ شعبان‌المعظم ۱٤٤٥ هـ.ق / ۰۲ حوت ۱٤۰۲ هـ.ش / ۲۱ فبروری ۲۰۲٤ میلادي


## پیام تسلیت و همدردی مولوی عبدالکبیر در رابطه به رانش زمین در ولایت نورستان



نحمده و نصلی علی رسوله الکریم
با اندوه فراوان آگاهی یافتم؛ از اثر رانش بخشی از کوه در ولسوالی نورگرام ولایت نورستان شماری از هموطنان ما شهید و شماری هم زخمی شدند.

همچنان در این رویداد، حدود بیست منزل مسکونی ویران شده است.
به همین ترتیب گزارشات از بندش راه ها و ویرانی خانه ها از اثر برفباری های سنگین در شمار دیگری از ولایات نیز رسیده است، ... ص ۵

د ریاست الوزرا سیاسي مرستیال:

# موږ چمتو یوو چې د خبرو له لارې د ټولو هېوادونو اندېښنو ته ځواب ورکړو



د ریاست الوزرا سیاسي مرستیال مولوي عبدالکبیر د جاپان له سفیر تاکایوشي کوروميا سره لیدنه کړې.
په دې لیدنه کې د جاپان سفیر ویلي، جاپان او افغانستان اوږدې تاریخي اړیکې لري او هېواد یې له افغانستان سره د ښو اړیکو د پراختیا لپاره لېوالتیا لري.
نوموړي زیاته کړې، جاپان غواړي د افغانستان او نړۍ تر منځ د اړیکو په جوړښت او نېږدېوالي کې مهم رول ولوبوي.
د جاپان سفیر دغه راز له افغانستان سره ... ۵مخ

بورل:

## د اروپايي ټولنې ۲۶ غړي په غزه کې د جګړې د سمدستي پای ته رسولو غوښتنه کوي

د اروپایي ټولنې د بهرنی تګلارې مشر جوزپ بورل وايي چې د اروپایي ټولنې ۲۶ غړي هېوادونه غواړي چې په غزه کې سمدستي جګړه ودرول شي.
ښاغلي بورل دغه څرګندونې ورمه شپه د اروپایي ټولنې د شورا په غونډه کې وکړې.
ویل کېږي چې د ۲۷ غړو هېوادونو څخه یوازې هنګري په غزه کې د تلپاتې اوربند د رامنځته کېدو مخالفت کړی دی.
د اروپایي ټولنې د بهرنی تګلارې مشر زیاته کړه چې د جګړې د بندولو ترڅنګ فلسطینیانو ته د بشري مرستو رسونه د اروپایي ټولنې د غړو هېوادونو بله غوښتنه ده.
تر دې وړاندې د ملګرو ملتونو سرمنشي انتیوني ګوتېرش... ۵مخ



## د اقتصادي کمېسیون د تخنیکي کمېټې نوبتي غونډه؛ په یو شمېر اقتصادي موضوعاتو خبرې وشوې



اقتصادي کمېسیون د تخنیکي کمېټې په نوبتي غونډه کې چې د روان لمریز کال د سلواغې میاشتې په ۳۰مه نېټه په مرمرينه ماڼۍ کې جوړه شوې وه، له اجنډا سره سم د یو شمېر اقتصادي موضوعاتو په اړه خبرې شوې.
په غونډه کې د کابل ښار په صنعتي پارکونو کې الکوزي شرکتونو ګروپ ته په قرارداد د ځمکې ورکړې پر موضوع بحث شوی. ۵مخ


## برگزاری نشست به منظور جلوگیری از قاچاق سنگ‌های قیمتی



نشستی به منظور جلوگیری ازقاچاق سنگ های قیمتی در وزارت تجارت و صنعت برگزار شد. دفتر مطبوعاتی وزارت صنعت و تجارت با نشرخبرنامه یی گفته است: این نشست به ریاست الحاج نورالدین عزیزی، سرپرست آن وزارت و با اشتراک نمایندگان نهاد های ذیربط برگزارشد. نورالدین عزیزی در این نشست گفت: تلاش صورت گیرد تا برای سکتورخصوصی و مردم، سهولت فراهم شود و تجارت سنگ های قیمتی بیشتر قانونمند شود تا از قاچاق آن جلوگیری شود. در اخیر نشست تصمیم گرفته شد که مسوولان ادارات ذیربط با نظرداشت قوانین و لایحه ادارات مربوط دیدگاه و نظریات شان راهماهنگ سازند و در نشست بعدی مطرح کنند.

## د اسلامي همکاریو سازمان د افغانستان پر وضعیت غونډه جوړوي

د اسلامي همکاریو سازمان په یوه خبرپاڼه کې ویلي چې د اسلامي هېوادونو د استازو په ګډون او د دغه سازمان په کوربتوب به د افغانستان د وضعیت په اړه په ګامبیا هیواد کې یوه غونډه وکړي.
په دې خبرپاڼه کې ویل شوي چې د دغه سازمان د بهرنیو چارو د وزیرانو شورا تر سرلیک لاندې به بله غونډه په کامرون کې جوړه شي.
دغه سازمان د دوحې غونډې په پای کې په یوه خبرپاڼه کې ویلي چې د دغه سازمان ځانګړي استازي طارق علي بخیت د دوحې غونډې په څنډه کې د افغانستان لپاره د دغه سازمان له یو شمېر ځانګړو استازو سره هم کتلي دي.
په خبرپاڼه کې وړاندې ویل شوي چې د اسلامي هېوادونو د همکاریو سازمان له افغانستان څخه ملاتړ او له افغان دولت سره پر رغنده خبرو ټینګار کوي.




## گوترش: افغانستان در بهبود امنیت، کاهش فساد و منع کشت مواد مخدر پیشرفت کرده است



آنتونیو گوترش، دبیرکل سازمان ملل متحد گفته که افغانستان در بهبود امنیت، کاهش فساد و منع تولید مواد مخدر پیشرفت کرده است.
آقای گوترش این موضوع را صبح دیروز (سه‌شنبه، ۱ حوت) در ایکس بیان کرده است.
دبیرکل سازمان ملل متحد تاکید کرده که کارهای زیادی... ص۵

## پیکرهای قربانیان برف کوچ اخیر درپنجشیر، از زیر آوار ها بیرون کشیده شد



گروه نجات هلال احمرافغانی، توانست، پیکرهای بی جان قربانیان برف کوچ اخیر درپنجشیر را، از زیر آوار، برون کنند.
دوشنبه شب، برف کوچ درولسوالی حصه اول پنجشیر، شماری از کارگران یک معدن را زیر گرفت.
دراین رویداد، دوکارگر... ص۵

سرمقاله

## تعلیمي لومړیتوبونو ته باید ژوره پاملرنه وشي

بشري ژوندانه کې لوست او زده کړه همدومره مهمه هم ده- دا حقیقت اوس مهال ګردې نړۍ ته د لمر په شان څرګند او ثابت شوی او همدا وجه ده چې پر مختللي او ځواکمن هېوادونه د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د خپل اغېز اونفوذ زیاتولو همدې، هېوادونو لاندې کولو او د نورو پر وسایلو او شتمنیو خېټې اچولو په موخه تر هر څه ړومبی د تعلیم او معارف له لارې غواړي پورتني اهداف تر لاسه کړي- ټولو بې وزلو هېوادو کې ددوی له خوا د ښوونځیو په ودانۍ جوړولو، نصاب چمتوکولو، کتابونو، لوازمو، ښوونکوروزلو، پوهنتونو سره اړیکو لرلو او محصلینوته عموما په حقوقو، اداره، سیاست، ټولنه، تاریخ، ادبیاتو،هنرونو او داسې نورو بې اغېزی څانګو کې بورسونه ورکول او مرستې رسول فقط او فقط دهمدې مقصد لپاره وي- په دې لړ کې اوس که موږ له خواوشا تېرې یوې پېړۍ راهیسې د اسلامي نړۍ حالات وارزوو نو په ډاګه معلومېږي چې ټولو غربي او شرقي ښکېلاکګرو زیاتره د خپلو روزلیو شاګردانو پرمټ مسلمانانوته خورا بدې ستونزې رامنځ ته کړې دي- څکه له پرنګي نصاب سره سمې زده کړې که څه هم یو اسلامي هېواد کې دننه ترسره شوې وي، نتیجه یې حتماً هماغه وي، کومه چې بهرنیو ترسیم کړې وي- همدارنګه فرضاً بهرنیو هېوادو کې چې کوم اشخاص روزل شوي زیاتره یې... ۵مخ


برگه‌ی از تاریخ؛ خلافت عثمانی و قضیه‌ای فلسطین! صفحه ۲

د فدرالي نظام غوښتونکي که روسی کلوشې صفحه ۲

آیا د اقلیمي بدلون او وچکالی لپاره څه چمتووالی لرو؟ ۳ مخ

# جهادي خاطرې

## غازي وکیل احمد او د ایټالوي اشغالګرو وژل!

### ۱۳۹۲/۳/۱۸ دوشنبه

**مولوي حیات الله مهاجر فراهي**

ځینې واړه وي خو ډېر لوی کارونه وکړي، خلکو ته روحیه ورکړي، تاریخ جوړ کړي، دین، هېواد اوقام ته د تل لپاره افتخار شي.
هدف مې زموږ کلیوال (د فراه، فراه رود ولسوالۍ د رویې د کلي) ۱۶ کلن وکیل احمد دی.
هو! هغه که څه هم په ونه ټیټ، له جسمي پلوه کمزوری و،خو داسې د میړاني کار یې وکړ چې د تل لپاره به یې نوم د اتلانو په لیست کې ثبت وي.
زه هغه ورځ د خوښۍ نه په جامو کې نه ځاییدم کله چې راته ثابته شوه په یاده پېښه کې یو ایټالوي عسکر قتل او درې نور سخت ژوبل دي.
ستاسو د انتظار شیبې نه اوږدوم راځم اصل مقصد ته...
ترې ومې پوښتل تاسو دې کار ته چا وهڅولاست ؟ راته کړل یې: یوه ورځ د فراه له مرکز نه د فراه رود خواته پر لاره وم، د بالابلوک د کنسک سیمه کې مې یو تعداد ولسي وګړي تر سترګو شول، چې د مظاهرې په شکل راوتلي و.
پوښتنه مې وکړه دا خلک څه کوي چې سړک ته راوتلي ؟! راته وویل شول چې امریکایانو د قرآن عظیم الشان بې حرمتي کړې نو دوی غواړي چې د امریکایانو دا عمل وغندي.
له همدې ځایه مې په زړه کې دا خبره را وګرځېده چې ښه دوی خو ویل چې موږ دا هېواد جوړو او دلته زموږ په خاوره کې پورته او کښته کېږي او بیا زموږ د قرآن بې حرمتي هم کوي...
بس له همدې ځایه مې فکر بدل شو او له ځانه سره مې د اشغالګرو نه د انتقام او غچ اخیستلو ټینګ هوډ وکړ.
اراده مې داسې وکړه چې پر یرغلګرو به استشهادي برید کوم، په داسې ډول که وتوانېږم له منفجره موادو نه جوړه یوه صدرۍ پیدا کړم او بیا د خارجیانو ټانک ته ور وخیژم او فدایي برید وکړم خو له مشورې وروسته مې له دې پلانه صرف نظر وکړ.
بیا راغلم د هرات قول اردو ته چې ثبت نام په کې وکړم ترڅو نظامي زده کړې وکړم...
او که مې د قول اردو پر قوماندان چم جوړ شو برید به پرې وکړم خو بدبختانه دلته مې د برید لپاره ترتیب نسو برابر نوبېرته فراه ته راغلم.
دلته مې پر دښمن د یوه کارنده برید لپاره تابیا ونیوله او له ډېر سوچ او فکر نه وروسته مې داسې نقشه په ذهن کې جوړه کړه چې نارنجک (ګرنیډ) به د اشغالګرو شوبلې ته ور غورځوم او په بېړه به له ساحې نه تېښته کوم.
اوس نو ستونزه د نارنجک د پیدا کولو وه، ځکه زموږ د کورنۍ ځینو غړو د کابل د ادارې په امنیتي برخو کې عملاً کار کاوه او مجاهدینو پر ما اعتماد او باور نشو کولای.
خو له ډېرو هڅو او کوښښونو وروسته بالآخره د نارنجک په پیدا کولو وتوانېدلم.
پلان مې داسې جوړ کړ چې کله د خارجي یرغلګرو کوم څغره وال ټانک په ښار کې د ګزمې په حال کې و، نو به لاسي ګرنیډ د دوی موټر ته ورغورځوم.
همداسې مې وکړل بازار ته راغلم او د یو دوکان څنګ کې د انتظار په پلمه کښېنستلم څرنګه چې زما عمر کم او د فزیکي پلوه مې هم جسم کمزوری ښکاریده، نو شاید هیچا داسې یو فکر زما په اړه نه وای کړی.
له څه انتظار وروسته د دښمن څلور شوبلې د فراه رود لخوا راغلې...
ما هم توکل په الله کړ نارنجک مې برابر کړ لومړۍ شوبلې ته دومره ورنږې شوم چې لاس مې شوبلې ته رسیدی او د تکبیر په ویلو مې د ټانک خواته وروغور ځاوه، نارنجک (ګرنیډ) د شوبلې منځ ته ورشیوه شو کله چې مې پښه د چرۍ نه واړول درز شو او نارنجک په شوبله کې د ننه انفجار شو.
نور نو ډاډه شوم چې هدف مې سم ویشتلی د سیمې نه په تېښته شوم او ځان مې خوندي ځای ته ورساوه.
دې پېښې د فراه ښار په زړه کې د دښمن راج وننګاوه او د مؤمنانو زړونه یې په خارجي یرغلګرو یخ کړل.
زما د کره او دقیقو معلوماتو په حساب په دې پېښه کې یو ایټالوي یرغلګر قتل او درې نور مرګوني ژوبل شول چې وروسته غلیم هم دا تلفات ومنل.
ښاغلي وکیل احمد زیاته کړه: څو ورځې وروسته مې بیا پلان جوړ کړ نارنجک مې راواخیست او د دښمن شوبلې ته مې ورخوشي کړ خو له بده مرغه په همدې حال کې یو سراچه موټر چې کوم دولتي چارواکی په کې سپور و، زما او د ټانک ترمنځ خنډ شو، نارنجک د دې پر ځای چې شوبلې ته دننه ور شیوه شي پر بانټ ولګید، زه هم په څغاسته شوم او د پېښې له ځای نه څه ورهاخوا د عسکرو لخوا ونیول شوم.
امنیت ملي ته راوستل شوم او د تحقیقاتو لپاره څو ځله امریکایان راته راغلل.
د بند په دوران کې امریکایانو په ځلونو رانه تحقیقات وکړل، ما ته به یې ویل تاسو خو کشر یاست موږ ته اصلي کس چې ددې حملې انګېزه یې درکړې په ګوته کړئ.
محترم وکیل احمد راته وویل: ما ته محکمې د خارجی یرغلګرو په وژلو اووه نیم کاله حبس راکړ چې یو اندازه مې په فراه او نور مې د بګرام په زندان کې تېر کړ او کله چې د اسلامي امارت او امریکایانو ترمنځ د قطر په دوحه کې د سولې تړون لاسلیک شو او د پنځه زره اسیرانو خوشي کېدل هم د تړون برخه وه چې زه هم د دې زندانیانو په ډله کې راخلاص شوم.

# برگه‌ی از تاریخ؛ خلافت عثمانی و قضیه‌ای فلسطین!

**سیف‌الدین احمدی**



در سال ۱۸۹۶م یهودیان به رهبری «دکتور هرتزل» پیشنهاد خرید قسمتی از فلسطین را در مقابل بیست میلیون پول -به ارزش واحد پولی عثمانی- به خلافت عثمانی دادند، اما از سوی خلافت اسلامی رد گردید. بعداً در سال ۱۹۰۱ هرتزل شخصاً به دیدار خلیفه سلطان عبدالحمید دوم رفت. یهودیان این بار پیشنهادات زیادی از جمله ساخت کشتی‌های زیردریایی، کمک به خلیفه در تنظیم سیاست اروپایی، تأسیس دانشگاه عثمانی در بیت‌المقدس، بازپرداخت کلیه مقروضات دولت خلافت، تقدیم کمک‌های مالی جهت اجرای طرح‌های بازسازی و پرداخت مالیات سالانه برای کمک به خلافت جهت سر و سامان بخشیدن اوضاع درهم ریخته‌ای اقتصادی کردند؛ اما خلیفه سلطان عبدالحمید «رحمت‌الله‌علیه» باوجود شرایط دشواری که دولت خلافت با آن دست‌وپنجه نرم می‌کرد چنین پاسخ داد:
«دکتور هرتزل را نصیحت کنید که گام‌های جدی در این زمینه نبردارد، زیرا من نمی‌توانم از یک وجب خاک فلسطین دست‌بردار شوم. فلسطین سرزمین شخصی من نیست، بلکه مربوط به همه‌ی مسلمانان می‌شود. مسلمانان برای پاسبانی آن خون خود را قربانی و به خاطر آن جهاد کرده‌اند. یهود باید میلیون‌ها ثروتی خود را برای خود نگهدارند و هرگاه دولت خلافت از بین رفت آنگاه می‌توانند فلسطین را مفت و رایگان بدست‌آورند. در حالی که من زنده هستم بدون شک قطع شدن اعضای بدنم به من آسان‌تر از آن است که ببینم فلسطین از دولت خلافت جدا شده است. من نمی‌توانم بر پاره‌پاره شدن جسد خویش در حالی که زنده هستم موافقت کنم!»

# د فدرالي نظام غوښتونکي که روسي کلوشې

**لیکنه: عثمان**




په ۱۳۵۸ هـ ش د جدي پر شپږمه کله چې د وخت شوروي اتحاد سرو لښکرو پر افغانستان یرغل وکړ او زموږ ګران او محبوب هېوادیې اشغال کړو چې په مقابل کې زموږ مؤمن او میړني ملت قیام وکړ او په تشو لاسونویې د روسي ځواکونو مقابلې ته را ودانګل، روسانو غوښتل چې د مقاومت د غلي کولو په موخه له خلکو سره مرستې پیل کړي چې پدغه مرستو کې یو قسم روسۍ کلوشې هم وې چې د هر چا په پښو کې به جوړې راتللې نو خبره مې داکو له چې زموږ د هېواد، د ملي خاینانو، غاصبینو، جنایتکارانو، قاتلانو، منفورو او رټل شویو څېرو، یوه ډله چې د اسلامي امارت له واکمنیدو وراندې پدې توانیدلي چې له وطن نه وتښتي چې اوس کله یو ځای کله بل ځای ځانونه څرګندوي، کله د مقاومت د دوام، کله د ټول ګډونه حکومت او کله هم په افغانستان کې د فدرالي نظام غوښتنه کوي دا هغه روسۍ کلوشی دي چې د هرچا په پښوکې جوړې راځي د روسانو سره د دوي روابط، له فرانسې سره د دوي اړیکې پر افغانستان د غربي ښکیلا ککرو د (B۵۲) طیارو د چتر لاندې دوی مجاهدینو پسې د اجیرو او مزدورو غلامانو په څیرمنډې وهلې او له هغوی څخه د غټو بمونو د ورید وغوښتنه یې کوله په هر صورت دا که په هر لباس کې وي او هر څوک یې تر شاو ولاړوي، افغان مؤمن او میړنی یې نه غواړي او نور په حکومتي چوکاټ کې د دوی د ګډون او شمولیت حوصله نه لري، دوی نه وطن ته وفا دار دي او نه ملت ته.
دوی خپل ملت ته ازموینه ورکړې ده او دوباره ازمایل یې له حماقت پرته بله معنی نلري. لکه چې د حدیث شریف مفهوم دی، مسلمان له یوه سوری دوه واره نه چیچل کېږي او یادا چې «ازموده را ازمودن خطا است» دوی ته که هر چا دوه روپۍ ورکولې د هغوی غلامان اولاسي نانځکې دي. دوی نه د هېواد په قصه کې دي او نه د ملت. هغه چې اوس هم د دوی حمایت او مرسته کوي احمقان دي !

# آیا د اقلیمي بدلون او وچکالۍ لپاره څه چمتووالی لرو؟

**د شریعت - تحلیل**



په داسې حال کې چې د ځمکې تودوالي زیاتېدو او اقلیم بدلېدو ستونزه د ګردې بشري نړۍ لپاره ترټولو زیاته لویه فاجعه ده، خو زموږ پر هېواد یې ناوړه اغېز ځکه لازیات ژور دی چې له بده مرغه تېرې څه باندې څلور لسیزې مو ټولې په داسې جنګ جګړو کې تېرې شوې دي چې د نړۍ ډېر ستر ځواکمن هېوادونه هم را سره ستړي، ستومانه او بې سیکه شول.

ښکاره ده چې په دغسې حالاتو کې نه یوازې مصنوعي کروندې په شاړو بدلېږي، بلکې د هېواد طبیعي ځنګلات او ښېرازې ورشوګانې هم لمنځه ځي چې همدغه د سمسورتیا کمی بیا حتماً د اورښتونو د کمي لامل هم ګرځي - مطلب دا چې له یوه لوري زموږ د سیمې او ګاونډ هېوادونو د صنعت او کارخانو زیاتېدلو او دننه هېواد کې د ښېرازۍ او سمسورتیا له منځه تلو سره اوس پر موږ خورا سخته وچکالي راغلې ده.

د هېواد له ګوټ ګوټ نه د عیني شاهدانو او رارسېدلو رپوټونو له مخې ویل کیږي چې زرګونه چینې، خوړونه، کاریزونه او ژور کوهیان یا مکمل وچ دي او یا یې په اوبو کې ترنیمایي لازیات کمی راغلی دی.

البته زموږ هېواد له همدې خطرناک حالت او ګڼو مشکلاتو سره سره لاهم دومره وړتیا لري چې خوا اوشا ګاونډیو هېوادو ته یې او وه - اته ډک سیندونه ور بهیږي خو موږ ډېره کمه استفاده ترې کولی شو - بنا پردې اوس که موږ د دغو راپېښو اقلیمی ستونزو لپاره څه چمتووالی او تا بیانه نیسو، نو بې له شکه خود په خپله د بشپړې تباهۍ پرلوري درومو - داسې تباهۍ چې له ښکاره یرغلګر پرته به مو هر ډول مادي او معنوي شتمني له منځه یوسي او زموږ مؤمن ملت به له ناچارۍ د اغیارو پر غلامۍ اړباسي - ښایي قرآن مجید کې د یوسف پیغمبر علیه السلام له کیسې سره دوچکالۍ لپاره د نوموړي انتظام او چمتو والی د همدې لپاره یاد شوی وي څو د تل لپاره نور مؤمنان هم په ورته حالاتو کې د خپلې لوږې او مجبورۍ څه غم او چاره وکړي - موږ باید متوجه اوسو چې راپېښو حالاتو کې هم په لنډ مهالې توګه د خوراکي موادو دومره زېرمې ولرو چې په ډېر سخت ناورین کې مو څه ناڅه مشکل حل کولی شي او هم باید داسې اوږ د مهالي پلانونه ولرو چې په راتلونکي ناوړه وخت کې مو له سخت بحرانه ژغورلی شي - د مثال په ډول مناسبو ځایوکې د ژمي او پسرلي د اوبو او سېلابونو زېرمه کولو لپاره بندونه وتړو او یا د ویالو او هرې ممکنې وسیلې پرمټ له خپلو روانو سیندونو د ځمکو خړوبولو کار واخلو - یوازې همدا چاره زموږ د هېواد زیاتره ستونزې او اړولی او موږ د اقلیمي بدلون له ناوړه اغېزو ژغورلی شي - موږ باید ومنو چې انسان یوازې هغه څه ترلاسه کولی شي، کوم څه چې عملاً یې ترسره کړي وي.

# د خـدمت احـــساس

**محمد عمر**

د ټولنې او ولسونو د خدمت احساس او مسئولیت هغه مقدسه او سپیڅلې دنده ده چې یو انسان یې د ولسونو د ښېګڼې او رفاء په موخه له الله پاک (ج) سره ژمنه کوي د مسلمانانو او ټولنې په چارو او امورو کې خپله ژمنتیا بانډې وفادار او وړتیاوې د ولس پر وړاندې وکاروي ښکیل او ژمن کس د و ګړو او ټولنې په منځ کې د سرلوړۍ او نیکنامۍ ځای مومي او پرګنو ته د امید وسیله او د الله پاک (ج) د رضایت سبب ګرځي که دغه مسئولیت په اخلاص او رښتینولۍ اجراء کړي د جنت مستحق به وي لکه څنګه چې د الله پاک (ج) د رضاء او قرب معیار تقواء ده دا رنګه ښايي په ولسونو او وګړو کې د افرادو د موفقیت معیار په خدمت پورې تړلی وي که دغه وجیبه د مراتبو په لحاظ لوړه وي په هغه اندازه یې مقام او ارزښت لوړ دي .دا خدمت دی چې د انسانانو سالار جوړ وي دا خدمت دی چې ټولنه جوړ وي او د ټولنې مخکښان ټاکي او دا به هم خدمت وي چې د شخصیتونو کردار لوړه وي که دا مسئولیت د ژوند د چارو په هره برخه کې مهیاء شي د تعلیم څخه نیولې تر دفتر او حکومتولۍ پورې ملکي سکتور کې وي او که امارتي مسئولیت وي.هوکې دا خدمت به د چوکۍ ،رتبې ،امتیاز، قدرت او دبدبې په بناء نه وي ،بلکه ښه به دا وي چې د ولس ستونزو کړاوونو ته رسیده ګي او د حل لارې او هېواد والو ته د زخمونو د مرهم پټې وي، کوم چې ۴۳ کاله یې د تداوۍ په انتظار وو.د زمانې حوادث او بدلونونه د ژوند ملګري وي ،واکونه او مسئولیتونه تلونکي وي مګر خدمت او کار نامې د تل له پاره د یادګار په توګه د ولسونو په یادو او د تاریخ په اوږدو کې پاتې وي.

دلته د توقع او امید مخ هغه چاته اوړي چې د خدمت او ښېګڼې مرجع وي.د افغانستان د لرغونی تاریخ په اوږدو کې لوړ شخصیتونه او هستي ټولنې ته وړاندې کړي چې کار نامې د ستایلو او نوي نسل ته د ثبت وړ دي پخواني لوړ شخصیتونه موجوده نسل ته مشال او موجودیې راتلونکي نسل ته لارښود ګرځي .نن چې د اسلامي امارت مجاهدین د هېواد د سمبالښت او چارو واګې په لاس کې لري .دا څو الفاظ به د مدحې په بناء نه بلکې د احساس مسئولیت او خدمت ته د کلک عزم د پیرزوینې اهدا وي د افغانستان اسلامي امارت ټول مسئولین چار واکي او مجاهد ټیم ته که تیر شل کلن جهادي بهیر او مبارزې ته ځیر شو نو د علم په زیور پوښلي د دعوت او جهاد په ډګر اخلاص مند په ټولنیزو مناسباتو کې زړه سواند او د اخلاقو نمونه د حوادثو او جلنجونو سره اشناء د قوماندې او مسئولیت په میدان فعال ،جدي ،قاطع د ولسونو په متن کې را لوی په اسلامي روحیه روزل شوي د هېوادوالو له ستونزو نه خبر د ولس د عنعناتو او فرهنګې دود سره بلد اشخاصو او افرادو په توګه ، چې فعلاً د هېواد د اداري په راس کې ولسونو ته د خادمانو په توګه مسولیت لري چې د اخلاقي تهذیب نه ډک په متقابل احترام او دیني ارزښتونو ولاړ خدمت ته د ژمنتیا تر څنګ هیود والو ته د موجوده فرصت نه په استفادې لکه څنګه چې د جهاد مبارزې او توري په میدان کې خپلې کارنامې په پاک او صفا نیت د اسلامي امارت په چوپړ کې عملاً اجراء کړي ، په هماغه سپېڅلې هوډ او عزم د هیواد ساتنې د ټولنې په وړاندې د قلمي مبارزې د خدمت مصدر شي .منم چې د ټولنې خدمت کې ستړیاوې ستومانۍ مصروفیت او کورنۍ ستونزو ته د نه رسیدو لامل به وي خو د اسلامي ټولنې پر وړاندې دې مسؤولیت ته ژمنتیاء ایماني او دیني وجیبه ده.

- د زړه په مینه او اخلاص موجوده اسلامي نظام ته .

- هغو شهیدانو ته چې د خپلو سرونو او وینو په نظرانه کولو سپین کاروان فاتح کامیاب او هیواد والو ته یې د استقلال عزت ورکړ، د ارمانونو ساتنه

- هغه یتیمانو ته چې پلرونه یې قرباني او د پلار له شفقت نه محروم پاتې شول د شفقت غیر پرانستل.- هغه غازیانو او مجاهدینو ته چې په خپلې ستړې ستومانې نه ډکې مبارزې یې دا هېواد د صلیبي تاړاک څخه آزاد کړ د حقوقو ساتنه .

- ددغې ټوټې خاورې استوګن ولسونو ته چاچې په شل کلن بهیر کې د مجاهدینو تجهیز، اباته او حفاظت کې همکار وو په هر بخش او رفاه عامه کې داسې خدمت څنګه چې د جهاد او مبارزې په دوران کې کړی و باید هماغسې صادقانه خدمت وکړي.

- افغانستان لکه څنګه چې د علم ،عرفان ،تمدن او برم زانګو پاتې شوې د نافع کابلي ، بستي، ملاعلی قاري امام سجستاني، جامي،امام رازی او ابوریحان البیروني او داسې نورو ټاټوبی وو د هغو د افکارو څخه الهام اخیستو د علماوو او منظمو دیني مدارسو په مرکز بدل .

- د سوچه اسلامي تعلیمي نصاب تهیه .

- مجاهدینو ته د خدمت او کاري زمینې برابرولو کې اسانتیاوې .

- یتیمانو ته دارالیتامونه او که ممکن وي دارلکفالې جوړول .

- د تخریبي او صلیبي عناصرو نه اداره پاکه ساتل.

- او دعام ولس ستونزو ته په خپل اخلاقي کردار، ښه سلوک او د کلیوالو سیمو اړوند مسایلو څخه لیدنه ، لاس رسی او ددوی ستونزې د امکاناتو په صورت کې هوارول .

د همدې سپیڅلي هدف او ارمان د پوره کېدو په هیله

# شعر و ادب

## غزل

### عبدالديان تکل

په ښـــار کـــې عطر او په کلي او راغه کې عـــطـر
چې پسرلی شي ياره ويښ به دي وي شپه کـې عطر

ولـــې دې پـتـه پـــه سـينه کـــې وي د علـم رڼــا؟
ولـــې دې بند وي دکـــانداره په شيـشه کـــې عطر

ددې فقيـــر د اوښکو زور به نـــړئ څــوک ولري
خـــدای ته نـيولي يې د سترګو په پـياله کـــې عطر

جنـــت ته نه ځـــي څـوک هلکـه لـه غـــروره سره
له جنـــتي ګـلو تر لاسه شي سجـــده کې عطر

طـــالب سينه کـــړله دمـــشکوچيـــنه وايه داسې
تاپيغـــمبر ته دي وروړي په تـحفه کــــې عـــطر

هـــغه شـراب ځښي د حـــسد او د بهتـان او غيبت
خـــو له احتـــياطه څـــخه نه وهـــي روژه کې عطر

تکـــل ســـلام وايـــه او دومـــره يې ويـــلو يـــاره!
ستـــاونـــامه ته خـــدای درکـــړي معـــجزه کې عطر

## طالب

### استاد راقم

ما طالبان مکتب قـــرآن و سنت ایم
ما داعیان مکتب صلح و اخوت ایم
قانون ما کتاب خدا و پیامبر است
مـا حـامل پیـام نظام عدالت ایم
هر کس کلمه گفت برادر بود به ما
خـدمتگذار دین و پیام سعادت ایم
مرز نژاد و قوم و تعصب شکسته باد
ما دشمنان تفرقه خواهان وحدت ایم
از اختلاف ماست کفر بهره می برد
خواهان اتفاق و وحدت به امت ایم
داریم هرچه، آنچه نداریم وحدت است
زین اخـتلاف دور ز دنیای عـزت ایـم
ما از حجاب و ستر دفاع می کنیم همیش
بر خـواهران خـویش طلبگار عـفت ایم
محکومِ عالم ایم ازین طرح عهد خویش
ورنه عـِقاب تیـز به کـوهسار همت ایم
مـا مـؤمنیم صلح بـود در کتـاب ما
تا کی اسیر و بردهء نفس جهالت ایم
ظالم بود چو آتش و ملت بود چوب
در آتش فساد چـو بـاران رحمت ایم
قرآن به دست ما و شجاعت به قلب ماست
مـــاننـد دُر فتـاده به بحـر شـهامت ایـم
ما مـرز قوم و سمت شکستیم یکسره
خورشید پر درخشش فردای ملت ایم
ما را قـم ایم به صحنه زرین حریت
در فکر انسجام و صلابت به امت ایم

# دلمــونځ ګـــټې

لمونځ د جنت کلي ده
لمونځ د دين ستن ده
لمونځ په محشـر کې د سر تاج دی
لمونځ د مومن د زړه راز دی
لمونځ د رحمت نازليدل دي
لمونځ د روزئ زیاتوونکی دی
لمونځ د مومن معراج دی
لمونځ د آخرت تحفه ده
لمونځ انســان د دوزخ له اور څخه ژغوري
لمونځ د ګناهونو کفاره ده
لمونځ سيوری او رڼا ده
لمونځ د دښـمن په مقابل کې وسيله ده
لمونځ د پيغمبرانو سيرت دی
لمونځ د فحشـا او منکراتو څخه ژغورل دی
لمونځ د جنت رهنما او لارښـوونکی دی
لمونـځ د پل صراط د تيريدلو جواز دی



لمونځ د قيامت د ورځی لومړئ پوښـتنه ده
لمونځ په قبر کې دانســان لپاره څراغ ده
لمونـځ په قبر کی د نکير او منکر جواب ده
لمونـځ د مومن لپاره نور او رڼا ده

# د زمــزم اوبــه!

### فريد احمد مبارز

د زمـزم اوبـو څـاه د ځمکـې څخـه ۱۰/٦ فيټـه لانـدې ده، پـه يـوه ثانيـه کـې ۸،۰۰۰ ليتـره اوبـه پمـپ کـوي چـې پـه يـوه دقيقـه کـې ٤٨٠،٠٠٠ ليتـره او پـه يـو ساعت کـې ۲۸/۸ مليونـه ليتـره او پـه ۲٤ سـاعته کـې ٦۹۱/۲ مليونـه ليتـره اوبـه پمـپ کـوي، مگـر جالبـه يـې لا دا ده چـې صـرف پـه ۱۱ دقيقـو کـې د هغـه څـاه بيرتـه پـه ۲٤ سـاعتو کـې کمښـت پـوره کـوي.
يـاده دي وي چـه دغـه څـاه د حضـرت اسـماعيل (عليـه سـلام) د وخـت څخـه فعالـه دی. پـه دې څـاه کـې دوه معجـزې دي چـې يـوه يـې د اوبـو د کمښـت ژر تـر ژره پـوره کـول او دوهـم ددې څـاه څخـه هيـڅ اوبـه نـه ضايـع کيـږي يـا نـه تويـږي. د زمـزم اوبـه نـه تنهـا د انسـان تنـده رفـع کـوي بلکـې انسـان مـوړ هـم سـاتي، کـه يـو انسـان تـر ډيـر وختـه پـورې خـواړه هـم ونـه لـري نـو کـولای شـي چـې يـوازې د زمـزم د اوبـو پـر څکلـو سـره د لـوږې او تنـدې څخـه ځـان وژغـوري. د زمـزم د اوبـو پـه هکلـه لابراتـوري معايناتـو پـه ډاگـه کـړې ده، چـې دا اوبـه د عامـو اوبـو پـه توپيـر زيـات Calcium، Magnisium او Fluirude لـري.
يـو جاپانـی څيړونکـی چـې Masaru Emoto



نوميـږي د ډيـر اسـتعداد خاونـد دی د زمـزم اوبـو پـه بـاره کـې يـې لانـدې څيړنـې تـر سـره کـړې دي.
۱ – د زمـزم کيفيـت او خالصوالـی د نـړئ پـه نـورو اوبـو کـې نـه شـي پيـدا کيـدلای.
۲ – هغـه پـه يـوې نـوې تکنالوجـې چـې NANO نوميـږي خپلـې څيړنـې تـر سـره کـړې او دا يـې ثابتـه کـړې ده، کـه چيـرې د زمـزم اوبـو يـوه قطـره پـه ۱۰۰۰ ليتـره عامـو اوبـو کـې واچـول شـي، نـو عامـي اوبـه بـه د زمـزم کيفيـت خپـل کـړي.
۳ – د زمـزم يـوه قطـره اوبـو «منـرال» خپـل خـاص کيفيـت لـري، چـې پـه نـړئ کـې بـې سـارې ده.
٤ – پـس لـه څـو مختلفـو څيړنـو څخـه هغـه وايـې: د زمـزم اوبـو کيفيـت او ذايقـه نـه شـي بدليـدلای، ولـی؟ ننـې سـاينس پـه دې اړه بـې جوابـه دی، د زمـزم اوبـه پـه هـر حالـت کـې شـفافه وي.
۵ – دا سـاينس پـوه پـه خپلـو څيړنـو کـې دا هـم ثابتـه کـړې ده، چـې مسـلمانان د څښـاک او خـوراک تـر مخـه «بسـم اللـه الرحمـن الرحيـم» وايـي، چـې د «بسـم اللـه الرحمـن الرحيـم» تـر ويلـو وروسـته د عامـو اوبـو پـه کيفيـت کـې هـم خـورا ډيـر بدلـون راځـي او د اوبـو کيفيـت خـورا زيـات لوړيـږي.
٦ – هغـه پـه خپلـو څيړنـو کـې دا هـم ثابتـوي، چـې کـه چيـرې پـر عامـو اوبـو بانـدې «قـرآن کريـم» وويـل شـئ او چـوف شـي، نـو کـولای شـي چـې د ډيـرو مرضونـو د مخنيـوي لپـاره اسـتفاده شـي.

# تبصره گک ها !

– فیسبوک :
در رویـداد ترافیکـی در شـاهراه کابـل ـ جلال‌آبـاد، ۱۴ تـن جان‌باختـه و ۱۰ تـن دیگـر زخمـی شـده‌اند.
– مبصر :
آخـر کمـی اهسـته بدوانیـن ، شـیربرنج تـان خـو سـرد نمیشــه !
– نیمروز :
فرمانده کل نیروهای اوکرین برکنار شـد .
– مبصر :
یا نی که اندیولی زلنسـکی و فرمانده سکلید !!
– واشنگتن پست :
اوکراین به کمبود نیروی نظامی مواجه شـده است .
– مبصر :
گفتـه بودیـم ، نکو که نمیتانی ، مردار کده میمانی !!!
– بی بی سـی پشتو :
افغانســتان کـې د بیلگیتــس بنســټ لخــوا د پولیــو د تشــخیص لابراتــوار جــوړ شــو .
– مبصر :
دا زمـوږ بـې ثمـره شـادگل خیـل بـه کـوم ببلگیتسـي کار و نـه کـړی ؟؟؟!!!
– رادیو مهرگان :
عـراق از سـرگیری مذاکـرات بـرای خـروج نیروهـای امریکایـی خواسـتار گردیـد .
– مبصر :
خـوب شـد کـه خواسـتار گردیـد ، احتیـاج و رنـگ زردی تـا بکـی ؟؟
– رادیو مهرگان :
دانـگ فنـگ ۲۶ موشـکی کـه میتوانـد نـاو هواپیمابـر امریـکا را غـرق دریـا کنـد .
– مبصر :
بیـرادر عزیـز ، مـا نـه موشـک داریـم و نـه هـم هواپیمابـر ، خـود تـان هـر کاری کـه میکنیـن ، بـه دل خـود میکنیـن ، مصخـد مـا را دخیـل نکنیـن !



– رادیو مهرگان :
ایرلنـد و اسـپانیا خواسـتار فـوری تجدیـد نظـر در روابـط خـود بـا اسـراییل شـدند .
– مبصر :
یعنـی کـه از وعـده هـای قبلـی خـود ترسـیده و قـر گفتنـد !
– بی، بی ،سی :
آلمان و اوکرایـن موافقتنامه امنیتی امضاء کردند .
– مبصـر : هاغـه زمـوږ صبغـه اللـه مجـددی هـم ویـل :(( کـه لـه امریکـې سـره امنیتـي موافقتنامـه امضـاء نشـي ، زه هجـرت کـوم ))
با احترام !
– بی بی سی :
د روسـيې د ولسمشـر ولاديميـر پوتيـن سـتر سياسـي رقيـب پـه زنـدان کـې ومـړ .
– مبصر :
پـه سیاسـت کـې کـه څـوک د خـره پـه لغتـه مـړ شـي هـم ، وایـي سیاسـی عوامـل وو ، دومـره فکـر نـه کـوی چـې خـر پـه
سیاست څه پوهیږي !!!
– ماکرون :
بـه رسـمیت شـناختن کشـور مسـتقل فلسـطین دیگـر بـرای مـا یـک تابـو نیسـت .
– مبصر : میگم شاباسـت بچیش !
دنباله روی تا بکی ؟؟؟
آخر شما هم آدم هستید .

## د افغان ټرانس وسپنې پټلۍ پروژې ...

لـوري په دغه مهمه پروژه کـې د پانګونې د جذب په موخه له نړیوالو مالي بنسـټونو، هېوادونو او سـوداګرو سره شریکوي. همدارنګه دغه مراسمو کې وپتیل شوه، چې سـبا ورځ به د افغانسـتان، ازبیکسـتان او عربي متحده اماراتو اسـتازي په تاشکند ښـار کې په آنلاین ډول د دې پروژې په اړه له پاکستاني او قطري چارواکو سره خبرې وکړي.

یاده دې وي چـې د افغان ټرانس اوسـپنې پټلۍ مهمه پـروژه، چـې د افغانسـتان له خـاورې پـه تېرېدو د اوسـپنې پټلۍ له لارې منځنۍ اسیا له جنوبي اسیا سره وصلوي، له مزارشـریف څخه پیل او د ۶۴۷ کیلومتره پـه اوږدوالي لـه سـمنګان-بغلان - بامیـان - میدان وردګ- لوګـر او پکتیا ولایتونو څخه په تیریدلو سـره د پکتیا ولایت په ډنډ پټان ولسـوالۍ کې له پاکسـتان هېواد سره نښلي.

دغه پروژه له کلونو راهیسـې تـر بحث لاندې وه، چې تر فتحې وروسـته یې ابتدایي سـروې د افغانسـتان، ازبیکسـتان او پاکستان اوسـپنې پټلۍ تخنیکي ټیمونو له لوري په بریالیتوب سـره ترسـره، د اسلامي امارت کابینې لـه لوري یې لوری تاییـد، د چارو د پرمختګ لپاره یـې یو کلـن عملیاتي پلان لاسـلیک او ابتدایي مطالعات (Pre- Feasibility Study) ترسـره شوه، چې په واضـح ډول د دې مهمې پروژې د عملي کېدو اړوند د افغانسـتان د اوسپنې پټلۍ ادارې او په ټوله کې د اسلامي امارت ژمنتیا او جدیت ښیي.

همدارنګه د افغانسـتان د اوسـپنې پټلـۍ اداره یو ځل بیا هېوادونو، نړیوالو مالي بنسـټونو او سوداګرو ته بلنه ورکـوي، څو د افغانسـتان د اوسـپنې پټلۍ پروژو کې پانګونـه وکـړي او خپله دنده بولي چـې پانګوالو ته د پانګونې په موخه اړین تسـهیلات رامنځ ته کړي.

## په طبي انستیتونو کې د نجونو...

د دغه پریکړې له مخې د کاپیسا، پروان، پنجشېر، میدان وردګو، غزني، پکتیکا، لوګر، خوست، بدخشان، بامیانو او پکتیکا ولایتونو له ۱۲ ټولګي څخه فارغې شوې نجونې نوم لیکنه کولای شي.

د عامې روغتیا وزارت د یادو ولایتونو د عامې روغتیا ریاستونو ته د یوه مکتوب له لارې لارښوونه کړې، چې له ۱۲ټولګي فارغې شوې نجونې روغتیایي انستیتیوتونو کې جذب کړي او د یاد وزارت له لوري دغو ولایتونو ته په همدې موخه پلاوي هم استول شوي دي.

## د بغلان بزګران اوربدلي واورې هیله...

نوموړي زیاته کړه:« د واورې اورښت زراعت ته ډېره ګټه رسـوي او همدارنګه بزګران به په راتلونکي کال کې ډېر حاصـلات واخلي او ترڅنګـه یې په غرونو کې د اوبو زېرمې هـم ډک کېږي او بیا په دوبي کې موږ د اوبو له کمښـت سره هم نه مخ کېږو.

د بغلان بـل بزګر نعیـم الله وویـل، چې د واورې اورېدل نه یـوازې غنمو او شـولو، بلکې باغدارۍ، مالدارۍ او څړځایونو ته هم ډېره ګټه رسوي، له دې سـربېره د اوبو زېرمې هم ورسره ډېرېږي.

نومـوړي زیاته کړه، که چېرې د ژمي په موسـم کې د واورې او باران اورښـت همداسې دوام وکړي، نو زراعتي کښـتونو او څړځایونو ته به ډېره ګټه ورسوي.

د بغـلان د دوشـي کروندګر محمـد امین وویل: « مـوږ ډېر خوشـحاله یو چـې واوره و اورېدله او ان شـاءالله په راتلونکي کال کې به موږ له خپلو ځمکو څخه ډېر حاصلات ترلاسـه کړو او کومې اندېښنې چې مـوږ ته پیدا شـوې وې هغه یې لـرې کړې. د بغلان اوسـېدونکي وایي، چـې د واورې اورېدلو له امله ډېر خوښ دي او زیاتوي چې د نوموړي ولایت د غنمـو د تولید ډېره برخه پـر للمي ځمکو ولاړ ده، خـو بیـا د للمي غنمـو حاصلات اورښـتونو پورې تـړاو لري او د واورې اورښـت ټولـو کرنیزو ځمکو همدارنګه مالدارۍ ته ګټه رسـوي.

## برق وارداتی اوزبیکستان به کشور ۵۰...

بربنیـاد خبرنامه، جریـان برق وارداتـی به‌دلیل بروز مشـکلات تخنیکی در کشـور اوزبیکسـتان با کاهش روبه‌رو شده است. برشنا می‌افزاید که سب‌ستیشن‌های خُلـم، خنجان و کابل به برق وارداتی از اوزبیکسـتان وصـل هسـتند. به گفتـه این ریاسـت کاهـش برق وارداتی اوزبیکسـتان سـبب ازدیاد پرچاوی‌های برق در ولایت‌های خوسـت، لوگر، میـدان‌وردک، غزنی، لغمان، ننگرهار، پنجشـیر، کاپیسا، پروان و سمنگان، شده است. برشـنا گفته که این وضعیت تا چه زمانی، ادامه خواهد یافت. گفتنی‌اسـت که اوزبیکستان یکی از کشـورهای وارداتـی کننده بـرق به افغانسـتان به شمار می‌رود.

## اعزام نیروهای اردوی اسلامی به...

خبرنامه‌ای شـب گذشـته (دوشنبه‌شـب، ۳۰ دلو) در صفحه ایکس از اعزام نیروهای نجات به ولسوالی نورگرام نورستان خبر داده است.

در خبرنامـه آمده اسـت که نیروهای دلیـر لوای چهارم عبدالله بن رواحه‌رض مربوط بـه قول‌اردوی ۲۰۱ خالد بن ولید کمک‌های لازم را به آسـیب‌دیدگان انجام داده و تلاش‌های آنان هم‌چنان ادامه دارد.

روز گذشته از ولایت نورستان گزارش رسید که در نتیجه برف‌باری در این ولایت بخشـی از یک کوه در قریه نکره تیتین‌دره ولسـوالی نورگرام ولایت نورسـتان رانش کرده و حـدود ۲۰ منزل مسـکونی را به‌گونه‌های کلی و جزی تخریب کرده است. اطلاعات مسوولان محلی و وزارت دولت در امور رسـیدگی به حوادث طبیعی نسبت به این رویداد حاکی از آن بود کـه در نتیجه این رویداد طبیعی ۲۵ تن جان باخته و ۸ تن دیگر نیز، زخمی شده‌اند.

## د هېوادوالو د اطلاعاتو د خوندیتوب...

عنایـت الله الکـوزي زیاتوي چې پخـوا دغه چاره د عرضـه کوونکـو هېوادونـو له لوري ترسـره کېده چې د ګڼو سـتونزو سـربېره د هیوادوالو له شخصي اطلاعاتو ډاډمن نه وو، ځکـه انټرنېټي ټرافیک د دغو هېوادونو له لوري ترسـره کېدل او په اسـاني سـره یـې د انټرنېـټ کارکوونکو مالوماتـو او اطلاعاتو ته لاسرسی درلود.

نوموړي همـداراز ویلي، چې د بهرنیـو هېوادونو له لـوري د انټرنېټ ټرافیـک خورا قیمته ترسـره کېدل چـې اوس مهـال یاد ټرافیـک په هېواد کـې دننه په ارزانه او خوندي ډول ترسره کېږي.

د مخابراتـو او مالوماتـي ټکنالـوژۍ وزارت ویاند زیاتوي چې وزارت د انټرنټ د کارکوونکو شـخصي اطلاعاتـو خوندیتوب ته ارزښـت ورکوي او همدې موخه یـې دا مرکز رامنځته کړ دی.

د مخابراتـو او مالوماتـي ټکنالوژۍ وزارت ویاند تر دې وراننـدې ژمنه کړې وه چې د هیواد ټولې سـیمې به د مخابراتي شـبکو تر پوښښ لاندې راولي.

## سږ کال په هلمند کې ۱۷ پروژې...

په یادو پروژو کې د ښارد سړکونو، چوکونو، ګلدانونو، پُلونو، د شـپني څراغونو، پارکونو، عامه تشـنابونو، د ښـار د ننوتـو دروازې د لومړي فاز چارې او داسـې نورې پروژې شاملې دي.

د یـاد ولایت د لښـکرګاه ښـاروالۍ مطبوعاتي مدیر محمد طاهر آبشـار د باختر‌آژانس خبریال ته وویل:« زموږ د ۱۴۰۲ کال د پلان شـوې پروژې چارې ۹۵ - ۸۵ سلنه بشپړې شـوي او تمه لرو چې د همدې کال په بشـپړېدو سـره به د نیمګړې پروژې چارې بشپړې شي».

نومـوړي زیاته کړه، چې د لښـکرګاه ښـاروالۍ به په ۱۴۰۳ هـ ش کال کې هم د ښـار پـه هغو برخو کې چـې اړتیا وي د ۱۷ـ ۱۹ پورې پروژې پلې کړي او د ښار له ټولو اوسـېدونکو وغوښتل چې خپل مالیات په وخت سره ښـاروالۍ ته وسپاري ځکه چې د لښکرګاه ښـاروالۍ په راتلو شویوعوایدو سـره خپلې رغنیزې پروژې مخته وړي.

د یادونـې وړده، چـې پـه هلمنـد کې د ښـاروالۍ ریاسـت یـو لـه هغـو ریاسـتونو څخـه دی چـې زیـات شـمېر رغنیـزې پـروژې پلـې کـړي او لا هـم هڅه کـوي چـې خپلـو هېوادوالو تـه خدمت وکړي.

## تلاش برای تقویت کار زنان زراعت...

قـاری فضل الله دیوبنـدی رئیس زراعت، آبیاری و مالداری پنجشـیربه آژانـس باخترگفـت که برای هر زن زراعت پیشـه در این برنامه وسـایل باغچـه خانگی با تمام امکانات آن فراهم شـده اسـت که پس از این، با کار در باغچه های خانگی شـان چرخه ی اقتصاد خانواده های شـان را به حرکت بیارند.

او خاطر نشـان کرد که هدف از توزیع این وسـایل بلند بردن سطح عاید خانواده ها از طریق کاشـت و فروش سـبزیجات و نیز زمینه سازی شغل برای زنان است.

## د هرات په مسلخ کې ۴۰۰ خوسا شوې...

خبریال ته ویلي چې یاد ریاسـت د مسـلخ په کار کې د لا ښه روڼتیا په خاطر یو شـمېر ډاکتـران ګومارلي چې د څارویو د ذبحـې په برخه کې زیاتـه پاملرنه وکړي او له نیکه مرغه د ۵ زونونو په کچه یاد ولایت د ښـه پاکوالـي او معیارونو د لرلو په دلیل لومړی مقام خپل کړی دی.

نوموړی زیاتوي چې په هرات کې اوس ۹۵ سـلنه خلک د مسـلخونو له مهر سره پاکې غوښې کاروي او له نورو څخه هم غواړي چې د مسلخونو له لوري له حلالې غوښې څخه اسـتفاده وکړي ترڅو په بېلا بېلو ناروغیو اخته نشي.

له بلې خوا د هرات ښـاروالۍ د ادارې استازی مولوي محمد وویل، چې د مړو او حرامو څارویو د پېراو پلور مخه ونیول شـي.

## موږ چمتو یوو، چې د خبرو له لارې د ټولو...

د خپلو بشري مرستو له دوام ډاډ ورکړی او ویلي یې دي؛ هېواد یې چمتو دی، چې په افغانستان کې د بیارغونې، پراختیایي چارو، روغتیا او د ظرفیت لوړنې پـه برخو کې پروژې پلې کړي. د جاپان سـفیر ویلي؛ په دوحه کې د ملګرو ملتونو ناسـته د افغانسـتان او نورو هېوادونو د تعامل لپاره یو ښه فرصت و او زیاته کړې یې ده، د افغانسـتان لپاره مهمه ده چې په دې ډول راتلونکیو ناستو کـې ګډون وکړي. د نوموړي په وینا، افغانسـتان او ملګري ملتونه دواړه باید مثبت ګامونه واخلي څو رسمیت پېژندنې ته لار پیدا شي.

کورومیا ویلي؛ نه یوازې جاپان بلکې ټول هېوادونه پوهېږي، چې افغانسـتان په تېرو دو کلونو کې د پام وړ پرمختګ کړی دی، په افغانستان کې واحد نظام حاکمیت لري او اړتیا ده او سرتاسري امنیت تامین دی.

د ریاسـت الوزرا سیاسي مرستیال له افغانستان سره د جاپان له بشري مرستو څخه مننه او په دوام یې ټینګار کړی. نوموړي ویلي؛ جاپان تل په افغانسـتان کې له سـولې، ثبات او پراختیـا ملاتړ کړی او اړتیا ده، چې د افغانسـتان د بنسـټونو په رغولو او پراختیایي پروژو پلي کولو کـې خپلو همکاریو ته دوام ورکړي. د ریاسـت الوزرا سیاسي مرستیال ویلي؛ اسلامي امارت له هر ډول تبعیض پرته د ټولـو افغانانو لپاره خدمات وړاندې کوي، دا مهمه ده چې ټول افغانان له مرسـتو او دولتي خدمتونو برخمن شي او ټول افغانان په حکومت کې شـامل دي. د نوموړي په وینا؛ د اسـلامي امارت پالیسـي دا ده، چې افغانسـتان به هیڅا تـه هم د ګواښ په توګه مطرح نشـي او نه به چاته اجازه ورکړي چې افغانستان د چا پر ضد وکاروي.

هغه ویلي؛ اسـلامي امارت په خپلو شرایطو چمتو و، چې د دوحې په ناسته کې ګډون وکړي، خو د ناسـتې تنظیموونکو دغه فرصت له لاسه ورکړ، خو دا له نړۍ سره د اسلامي امارت د تعامل او اړیکو د خرابوالي په معنی نه ده.

مولوي عبدالکبیر ویلي؛ د راتلونکي ناسـتې لپاره د خبرو اترو په اړه د ملګرو ملتونو د سرمنشـي د اعلان ته په ښـه نظر ګوري او هڅه کوي چې په نورو داسې غونډو کې مثبت او معنا لرونکی ګډون ولري.

نوموړي زیاته کړې؛ اسـلامي امـارت په ډیالوګ باور لـري، او غواړي هره ستونزه د خبرو له لارې حل شي.

نوموړي ویلي، موږ د ټولو هېوادونو اندېښنو ته احترام لرو او چمتو یوو چې د خبرو له لارې یې اندېښنې ځواب کړو.

## افغانستان در بهبود امنیت، کاهش...

در افغانسـتان بـرای انجـام دادن وجـود دارد. آنتونیـو گوتـرش تاکید کرده اسـت که حقـوق افغان‌هـا اولویت اول امارت اسـلامی باید باشد.

دبیرکل سـازمان ملـل متحد این سـخنان را پس از برگزاری نشسـت دو روزه ایـن سـازمان در مـورد افغانسـتان در دوحه قطـر بیان کرده است.

## د اروپايي ټولنې ۲۶ غړي په غزه کې ...

هم په غزه کې پر تلپاتې اوربند ټینګار او همداشـان یې د بندیانو د ازادېدو غوښـتنه کړې وه. ګوتېرش موده وړاندې ویلي و چې اسـراییلي ځواکونو په رفح کې پر مرسـتو بار هغه لاریو ته هم اجازه نه ده ورکړې چې فلسـطینیي بېځایه شویو ته پر لار وې.

د اروپايي ټولنې غړي هیوادونه په داسـې حال کې په غزه کې پر اوربند سلا کوي چې اسراییلي اشـغالګرو ځواکونو په غزه او رفح کې ګڼ ړانده هوایي بریدونه ترسـره کړي او لسګونه بې ګناه فلسـطینیان یې پکې شهیدان کړي دي.

اوسمهال سلګونه فلسـطینیان په رفح ښارګوټي کې د جګړو له وېرې راټول شـوي چې د سرپناه او خوراکي توکو له جدي کمښت سره مخ دي.

## د اقتصادي کمېسیون د تخنیکي کمېټې نوبتي...

تر بحث وروسـته د اقتصادي معاونیت د استازي په مشرۍ د ترانسپورټ، عدلیې، سوداګرۍ، اقتصاد، مالیې، کرنې وزارتونو او د چارو ادارې اړوند ملي تدارکاتو ریاست له اسـتازو څخه جوړې شوې ګډې کمېټې ته دنده سـپارل شـوې، څو یاد قرارداد له سـره وارزوي او خپل راپور اقتصادي کمېسیون ته وړاندې کړي.

په دغه ناسـته کـې د اقتصادي کمېسـیون د تخنیکي کمېټـې له لوري د هرات - خواف د اوسـپنې پټلۍ د څلورمې قطعې پروژې د دویمې برخې د جوړولو پر مالي تمویل او تدارکاتي پړاوونو خبرې شـوې.

تر هر اړخیزې ارزونې وروسـته پرېکړه شوې، چې د دې پروژې تدارکاتي چارې دې د ۱۴۰۳ لمریز کال په سـر کې پیل شي.

همدارنګـه په غونـډه کـې د کارګرانو د ملـي اتحادیـې د جایدادونو، اساسـنامې، د جوازونو ورکړې او مدیره پلاوي د ټاکلو په اړه تصمیم نیول شـوی، چې موضوع دې د تخنیکي کمېټې د نظرونو په پام کې نیولو سره د وروسـتي تصمیم په پار، اقتصادي کمېسیون ته وړاندې شي.

## پیکرهای قربانیان برف کوچ اخیر درپنجشیر، ...

جان باختند ویک کارگر دیگر، زخمی شد.

درابتدا یک کارگر از زیرآوار، نجات داده شد و درنهایت پیکربی جان دو کارگر دیگر برون کشیده شد.

یک منبع ریاست هلال احمرافغانی درپنجشیربه آژانس باخترگفت که گروه نجات آنان، ناوقت روز دوشنبه، پیکر دو کارگر جان باخته را از زیر آوار بیرون کردند

## تعلیمي لومړیتوبونو ته باید ژوره ...

د پر دیو له آجنډا سـره سـم تصرفات کوي- د مثال په ډول کله چې زموږ له هېواده یو شـمېر ځوانان روسیې او نورو شوروي جمهوریتونو ته واستول شـول نو زیاتره یې کمونیزم ته ور واوښـتل او بیایې خپـل هېواد کې هم د هماغـې مفکورې د تطبیـق لپاره ملاوتړله- دغه شـان څـوک چې نورو اروپایي هېوادو او امریکې ته ولاړل، له راسـتنېدو سـره سم یې د لیبرالیزم او دیموکراسـۍ لپـاره هلې ځلې پیل کـړې- همدغه د واراتـي افکارو او نظریاتـو خپراوی زموږ په ټولنه کې د خطرناک تصادم او تاوتریخوالي لامل وګرځېد- تر دې چې که سرې ښـه ځیر شي نو هماغه د ظاهرخاني دورې وروستي کلونه چې د دیموکراسۍ لسـیزه یې بولي، په حقیقت کې د پردیو افکارو لومړنۍ کرونده وه چې همدغه تېر شـوي درې څلویښت کاله یې په رېبلو او لوکولو ولګېدل- ځکه همدغو پردیو شاګردانو په هېواد کې داغیارو پېښـې شروع کړلې، خپل ارزښتونه یې مسخره او د نورویې مترقي او ګټورو بلل چې طبعاً په ولسونو کې د مزاحمت راپارېدلو سبب ګرځي- بناء پردي اسـلامی امارت چې د افغانانو د استقلال سـاتنې او دیني- ملي ارزښتونو د خوندیتوب او دفاع ناره او ژمنه یې کړې ده، بویه چې په هر ډول شـرایطو او هره ممکنه بیه د خپل موجوده او راتلونکي نسـل د سـالمې زده کړې او روزنـې لپاره جدي اقدامات وکړي، لازمه او انتهایي ډېره ضروري ده چې د نارینه او ښـځینه ؤ دواړو لپاره تعلیمی لومړیتوبونه وپېژندل شـي، مناسب چاپیریال ورته برابر، ګټور نصاب ورته چمتو او بالآخره په یوه داسـې روحیه او جذبه وروزل شي چې نر او ښځه یې تر ټولو غوره دعوتګر، خدمتګار، په هر ډول حالاتوکې د هېواد او خلکو ګټو ته ژمن او په دې لار کې د سرو مال قربانۍ ته نغد ولاړ وي- ترڅو په پای کې دا مظلوم او محروم ملت د داسې متخصصو کدرونو څښـتن شـي چې خپل هېواد پرځان بسیا او ړ نورو له متازۍ یې بشـپړ خلاص کړي - پکار ده زموږ تعلیمي او روزنیز مراکز داسې شـاګردان او فاضلان وروزي چې هر فردیې د اغیارو او مغرضینو لپاره یوه داسې ستڼه وګرځي چې هغوی یې نه ځواب ویلی شي او نه یې خپلو شیطاني لومو کې راګیر ولی – نه داسـې فارغین چې ظاهراً او باطناً د پرنګي په رنګ او ښه رنګېدلي، د هغوی سـورنې ته ګډېدلي او هر امرو فرمایش ته درېدلي وي- نور باید زموږ ښـوونځیو، پوهنتونو او روزنیزو ادارو کې هیڅ داسـې کس نه وي چې په هره روا او ناروا کې پردیو ته لاسـونه پړ کوي او د هغوی هره مشـوره خپله بریا او پرمختګ بولي، بلکې داسـې زلمي کدرونه چې د خپل پلرني هېواد او نسـبی ملت خپلواکي، سـوکالي او بسیاینه یې یوازني ارمان وي- راځـئ د همدغو ارمانو لپاره په هـر اړخیزه مبارزه لاس پورې کړو.

## پیام تسلیت و همدردی مولوی عبدالکبیر ...

وزارت دولت در امور رسـیدگی به حوادث، مصروف جمعآوری ارقام این وقایع می‌باشد. تمام ادارات مربوطه و مسوول با خانواده های متضرر کمک های عاجل نموده و در راسـتای بازگشایی راه ها اقدام کنند. من به خانواده های غم دیده این رویداد مراتب تسلیت و غمشریکی خویش را ابراز میدارم و از بارگاه الله متعال برای شهدا بهشت و برای مجروحین صحت کامل آرزو می کنم.

Shariat
Published by
Islamic Emirate of Afghanistan
M. Ebrahim Nabil ، Director of Gov.dailies
0782080666
Chief Editor : Farooq Ghaljai/ 0778635852
Email: info@shariatdaily.com
WWW.shariatdaily.com ویب سایت:

شریعت
د لیکوال هیئت تر نظر لاندې
د دولتي ورځپاڼو عمومي رئیس:
م محمد ابراهیم نبیل ۰۷۸۲۰۸۰۶۶۶
مسؤل مدیر: فاروق غلجی/ ۰۷۷۸۶۳۵۸۵۲
د شریعت برېښنا لیک: info@shariatdaily.com
پته: د بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ – د اطلاعاتو او کلتور وزارت نوې ودانۍ
شماره توزیع و شکایات: ۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹ / ۰۷۶۶۰۴۴۹۶۶/ ۰۷۳۱۶۰۶۰۷۳

Wednesday 21 Febuary 2024 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 387

# د افغان ټرانس وسپنې پټلۍ پروژې د تخنیکي ـ اقتصادي مطالعاتو د پیل پریکړه لیک لاسلیک شو



ازبېکستان ته د افغانستان د وسپنې پټلۍ اداري د عمومي رییس ملا بخت الرحمن شرافت او مل پلاوي د سفر په جریان کې د افغان ټرانس وسپنې پټلۍ پروژې د تخنیکي او اقتصادي مطالعاتو (Feasibility Study) د پیل اروند مهم پریکړه لیک د افغانستان، ازبېکستان او متحده عربي اماراتو د مسـوولینو له لوري لاسلیک شو.
دغه پریکړه لیک، چې د افغانستان لـه لـوري ښاغلي شـرافت، د ازبېکسـتان له لوري د یاد هېواد د ټرانسپورټ وزیر میرزا موئین اوغلي او د متحده عربي اماراتو له لوري د (ADL Ulanish) شرکت رییس الانیش لاسـلیک کړ، په اساس به یې یاد شرکت د افغان ټرانس وسپنې پټلۍ پروژې تخنیکي، اجتماعي او اقتصادي مطالعات(Feasibility Study) پـه خپل مالي لګښـت ترسـره کـوي او د دغـه مطالعاتو نتایج به د افغانستان، ازبېکستان او پاکستان هېوادونو له ... ۵مخ

## په طبي انسټیټونو کې د نجونو جذبیدل

د عامې روغتیا وزارت د پرېکړې له مخې کاپیسا، پکتیا، خوست د روغتیایي علومو انستیتیوتونو او د بدخشان د قابله ګۍ ځانګې ته د هغو نجونو د شاملېدو لړۍ پیل شوه، چې له دولسم ټولګي څخه فارغې شوې وي. ۵مخ

## د بغلان بزګران اورېدلې واورې هیله من کړي

د بغـلان ولایت مالـداران او بزګر د وروسـتۍ واورې اورښت ته خوشاله دي او هیلـه څرګندوي، چې را روان کال به د څارویو لپاره په ورشـو ګانو کې واښـه زیات او دغه راز د بزګرو د کروندو حاصلات زیات شي.
د مرکزي بغـلان ولسـوالۍ یوه تن کروندګر حاجي عبدالله خان وایي، چې د بـاران او واورې اورېدو له کبله به ځمکو کې مضره حشرې او چنجي له منځه ځي او د وچکالۍ د له منځه وړلو لامل هم ګرځي. ۵مخ

**شرکت برشنا:**
## برق وارداتی اوزبیکستان به کشور ۵۰ فیصد کاهش یافته است




ریاسـت برشـنا می‌گویـد، برق وارداتـی کشـور اوزبیکسـتان به افغانستان ۵۰ فیصد، کاهش یافته است.
ایـن ریاسـت شـب گذشـته (دوشنبه‌شـب، ۳۰ دلـو) در خبرنامه‌ای از کاهش برق وارداتی به کشور خبر داده است. ص ۵

## اعزام نیروهای اردوی ملی به آسیب دیدگان رانش زمین در نورستان



پـس از رانـش بخشـی از یک کـوه در ولایـت نورسـتان، وزارت دفـاع ملـی نیروهـای اردوی اسـلامی افغانسـتان از قـول‌اردوی ۲۰۱ خالد بن ولید را بـه کمک آسـیب‌دیدگان در این ولایت اعزام کرد.
این وزارت با نشر... ص ۵

## تلاش برای تقویت کار زنان زراعت پیشه درپنجشیر




صدها زن زراعت پیشـه در شـتل پنجشیر، وسایل باغچه های خانگی دریافت کردند.
کمیته ناروی برای افغانسـتان، برای یکهزارو بیست ونه زن زراعت پیشه در ولسوالی شتل پنجشیر، وسایل باغچه های خانگی توزیع کرد. ص ۵

## د هرات په مسلخ کې ۴۰۰ خوسا شوې غوښه له منځه یوړل شوه



د هـرات د کرنـې اوبولګولـو او مالـدارۍ ریاسـت مسـوولینو د یـاد ولایت په مسـلخ کې د ۴۰۰ خوسا شوې غوښې د له منځه وړلو خبرورکړې دی.
د هـرات د کرنـې، اوبولګولـو او مالدارۍ رییس مولـوي پیرمحمد حلیمي د باختر آژانس... ۵مخ

**مخابراتووزارت:**
## د هېوادوالو د اطلاعاتو د خوندیتوب په موخه مو یو مرکز جوړ کړی دی



د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت وایـي، پـه هېـواد کې د انټرنیټـي ټرافیک د خوندیتوب او د هېوادوالـو د اطلاعاتو محرموالي په موخه یې یـوه داخلي ګېټوې یا د انټرنیټ د تبادلې مرکز (نکسـا) رامنځته کړی.
د دغـه وزارت ویانـد عنایت الله الکـوزی وایي، له دې مرکز سـره یې ټول کورني مخابراتي شـرکتونه نښلولي چې ورسـره په هېواد کې د ټولـو انټرنیټ اسـتفاده کوونکو اطلاعات او معلومات هم خوندي شوي دي. ۵مخ

## سږ کال په هلمند کې ۱۷ پروژې پلې شوې



د هلمنـد مرکـز لښـکرګاه کې د ۱۴۰۲ هــ ش کال پـه بهیر کې د لښکرګاه ښـاروالۍ له لوري د ښار په بېلا بېلو برخو کې د ۱۰۱ میلیونه افغانیو په لګښت ۱۷ لویې پروژې پلې شوې دي. ۵مخ


## یونیسف برای دوازده مکتب در لوگر تعمیر جدید می سازد




مسوولان ریاست معارف ولایت لوگر می گویند:
در سـال آینده هجری خورشیدی بـرای ۱۲ مکتـب در آن ولایت که فاقد سـاختمان اند، ساختمان جدید ساخته می شود.
شـاهپورعرب سـخنگوی ریاست معارف لوگر بـه آژانس باخترگفت:
که ایـن مکاتب بـا هزینه مالی صنـدوق اطفـال سـازمان ملل (یونیسف) ساخته خواهد شد.
با اعمارسـاختمان هـای جدید برای مکاتـب لوگر، زمینه تدریس بهتـر بـرای دوازده هزار شـاگرد فراهم خواهد شد.

## رویدادهای خارجی

### امریکا په یمن کې د ډرون الوتکې د سقوط پخلی کړی



امریکایـي چارواکو فاکس نیوز ته منلې چې د دوی یوه ډرون الوتکه پـه یمن کې د حوثـي ځواکونو په توغندي ویشتل شوې ده.
امریکایي چارواکو فاکس نیوز ته ویلي چې د دوی یـوه ام.کیو-۹ الوتکه د الحدیده په سـواحلو کې سقوط شوې.
د یمن حوثـي ځواکونو پرون ادعا کړې وه چې الحدیده بندر ته نږدې یې د امریـکا یوه ام.کیو-۹ ډرون الوتکه ویشتې ده.
د حوثي ځواکونه له یادښـته چې د دې الوتکې ټولټال لګښـت ۳۰ میلیونـه امریکایي ډالـره و په هغه توغندي ویشتل شوې چې ارزښت یې ۱۰ زره ډالره و.
حوثي ځواکونو ګـواښ کړی چې د امریـکا او لوېدیځ اهداف به تر هغې په نښـه کوي؛ تر څو په غزه او رفح ښـارګوټي کې اسـراییلي اشـغالګرو ځواکونو روانه ټولوژنه نه وي درولې.

### قتل عام، غزه کې د فلسطیني شهیدانو شمېر تر ۲۹ زرو واوښت



د فلسـطین پـه غـزې تړانګه کې روغتیایي اداري او مسـولین وایي، چې د دغې سیمې په رفح ښارګوټي او نورو ځایونو کې د صهیونسـتي اشـغالګرو د وروسـتیو مرګونـو بریدونو له امله د فلسطیني شهیدانو شمېر ۲۹ زره او ۹۲ تنو ته رسېدلی، چې تر نیمایي زیات یې ماشـومان او مېرمنې دي.
د فلسطین د روغتیا وزارت دغه راز خبر ورکـړ، چې د رواني جګړې په ۱۳۷ ورځو کې شاوخوا ۶۹ زره او ۲۸ تنـه ټپیان شـوي هم دي، چې یو شـمېر د معلولیت تر حده ژوبل شوي دي. د دغې جګړې د پای ته رسولو لپاره تر دا مهاله ټولې هڅې ناکامـې دي او دربمګړي هېوادونه هڅـه کوي، چـې ښـکېل لوري دېته قانع کـړي، تر څو د ناورین له اوږدېدو څخه مخنیوی وکړي، هغه هڅې چې تر دا مهاله ناکامې دي.
د دغې جګـړې د پای ته رسـولو لپـاره د فلسـطیني جهـادي ډلو شـرط د دایمي اوربنـد ټینګول او د صهیوسـنت لـوري شـرط بیا د اسـرایلي ټولو زندانیانو ازادول او د حماس غورځنګ په بشپړه توګه له منځه وړل دي.

### پوتین، کېم جونګ اون ته روسیه کې جوړ شوی موټر ډالۍ کړی

د کوریا دولتي خبـري اژانس خبر ورکړی، چې د روسـیې ولسمشر ویلادیمیر پوتین د شـمالي کوریا مشـر کېم جونګ اون ته په روسیه کې جوړ شـوی موټـر ډالۍ کړی دی. د موټر د برنـډ او ماډل په اړه څه نـه دي ویل شـوي، خو کېم جونـګ اون روسـیې تـه د خپل وروستي سفر پر مهال د اوروس په نوم روسي موټر ارزولی وه. د دغه اژانس د معلوماتو له مخې دغه ډالۍ د شمالي کوریا د کارګر ګوند د لـوړ رتبه چارواکو او د کیم جونګ اون د خور کیم یو جونګ او همدارنګـه د کارګرانو د مرکزي کمېټې منشـي پاک جونګ چون له خوا تر لاسـه شوې او کېم جونګ اون ته به وسپارل شي.
د شـمالي کوریـا چارواکـو کېم جونګ اون ته د روسـیې د مشـر ویلادیمیـر پوتیـن له لـوري دغه ډالۍ د دواړو هېوادونو او مشـرانو د پخـو اړیکـو ښـکارندویي کوي.

### انصارالله یمن بر کشتی بریتانیایی درخلیج عدن، حمله کرد

کشـتی تجارتی«روبـی مـار» بریتانیایی درخلیج عدن درنزدیکی ساحه «باب‌المندب» هدف حمله موشکی انصارالله یمن قرار گرفت.
براسـاس گـزارش رسـانه‌های بین‌المللی؛ یک سخنگوی نظامی انصارالله گفته اسـت که خسارت زیادی به این کشتی وارد شده و در معرض غرق شدن قرار گرفته است.
بریتانیا حمله به کشتی «روبی‌مار» را محکـوم کـرده و گفتـه اسـت کشـتی‌های کشـورهای متحد در محل حمله حاضر هستند. شـرکت امنیتی امبری در بریتانیا، حمله بـه این کشـتی را که خدمه لبنانی داشـت تائید کـرده و گفته اسـت: مالکان و مدیران کشـتی روبی‌مار در حال مصروف بررسی امکان انتقال کشـتی هستند چون دیگـر خدمه در آن نیسـت و همه کشـتی را ترک کرده‌اند. این حمله، پر خسـاره ترین حمله انصارالله به کشتی‌های تجاری در باب المندب خوانده شده و هم‌چنان تلاش‌های غرب برای مقابلـه با این حملات تاکنون به نتیجه نرسیده است.